AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ژباړه: سمسور ودان
۲۰۲۶/۰۵/۲۴

# ځيني دردونه

ځيني دردونه
په کاغذونو نشي ليکل کېدلی
نه په کوم ليک کي
ليږل کېدلی شي
په ځينو دردونو
د دعاګانو اثر هم
نه کيږي
او د طبيبانو درمل هم
کار پرېږدي
ځيني دردونه په غېږ کي د نيولي
ماشوم غوندي وي
چي موږ يي له سيني سره
نښتي ګرځوي
ځيني دردونه زموږ د وجود
برخه شي
چي ځان سره يوځای يي
ان قبر ته يوسو
ځيني دردونه
زموږ ملګري شي
چي هر وخت راسره وي
ځيني دردونه لازم وي
څو موږ ته د شوي غلطۍ
احساس وي
او محسوس کړو چي موږ ژوندي بچ شوي يو

اکراش

ژباړه


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ